Preview (1 / 10) - ketabton.com

# نوی افغانستان له مونږ څه غواړي؟

(د ګران هېواد په راتلونکي کې د لوستونکې طبقې رول او مسؤلیتونه)

لیکوال

**مولوي وقایت الله وقار**

کال: ۱٤۰۰هـ، لمریز

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

Preview (2 / 10) - ketabton.com

# کتاب پېژندنه


دکتاب نوم: **نوی افغانستان له مونږ څه غواړي؟**

**لیکوال:** **مولوي وقایت الله وقار**

کمپوز **لیکوال**

**ډیزاین:** شریف الله للمه وال

چاپ کال: ۱٤۰۰هـ، لمریز

دچاپ وار: **لومړی**

دچاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ چارې: **احساس خپرندویه ټولنه**

**ترلاسه کولو ځایونه**

**جلال اباد**:

**احساس خپرندویه ټولنه**

اړیکشمېرې:


دچاپ حقوق احساس خپرندویه ټولنې سره خوندي دي





Preview (3 / 10) - ketabton.com



# لیکلړ

تقریظ ..... ه
تقریظ ..... و
سریزه ..... ۲
امېد د نوي افغانستان کیلي ..... ۴
د هیلو محور ځوانان ..... ۱۲
هغه اهداف چې لاسته راوړل غواړي ! ..... ۱۹
اول: د تغییر او بدلون هوډ ..... ۱۹
دوهم: درسته دیني پوهه ..... ۲۴
دریيم: ایماني قوت ..... ۲۸
څلورم: عصري علوم ..... ۳۴
پنځم: د ژبو او اجتماعیاتو زده کړه ..... ۴۰
شپږم: د تېرې نړۍ مطالعه ..... ۴۲
اووم: د اوسنۍ نړۍ مطالعه ..... ۴۹
اتم: د نظر پراخي ..... ۵۲
نهم: وطنی مینه ..... ۶۱
لسم: رسنیز او فرهنګي تیاری ..... ۶۶
یوولسم: اقتصادي پاڅون ..... ۷۲
دولسم: سیاسي بصیرت ..... ۷۹
دیارلسم: عملي مېړانه ..... ۸۵



څوارلسم: اخلاقي بېلګه توب ..... ۹۳
پنځلسم: یووالی ..... ۱۰۰
شپاړسم: د ګډ کار زده کړه ..... ۱۰۵
اولسم: روغتیا ته پاملرنه ..... ۱۱۰
اتلسم: له هر ډول فساد څخه کرکه ..... ۱۱۳
نولسم: د خدمت احساس ..... ۱۱۸
شلم: د لومړیتوبونو پېژندل ..... ۱۲۱
یویشتم: بې دمې له حکمته ډکه مبارزه ..... ۱۲۵

Preview (4 / 10) - ketabton.com



## تقریظ

حامدا و مصلیا، أمابعد: د نوي افغانستان په تصور ولاړه رساله چې زمونږ قدرمن ورور مولوي صاحب وقایت الله وقار لیکلې ده، کله چې ما پرې ځغلنده نظر واچاوه، لاندې ځانګړتیاوې مې پکې تر سترګو شوې:

۱: ابتکار: په دغه تصور ولاړه لیکنه تر اوسه ما لیدلې نه ده.

۲: د حال له غوښتنې سره سمون یې بله ځانګړنه ده.

۳: په داسې مېتود لیکل شوې چې که د لومړنیو زده کړو لرونکې یې هم ولولي؛ نو ښه ګټه ترې ترلاسه کولی شي.

۴: د لیکوال په سالم فکر او نظر باندې دلالت کوونکې ده.

۵: د قرآن کریم له هغې لارښوونې سره سمون لري چې فرمایي: الله تعالی تر هغه د چا بد حالت په ښه حالت نه بدلوي تر څو چې دوی د بد حالت بدلولو پر لور هوډ ونه کړي.

نو له همدې کبله په لنډو ټکو کې وایم چې نوموړې لیکنه د ستایلو وړ ده او ښه اقدام دی، لیکوال ته دې الله تعالی ډېر اجر ورکړي او ددې په څېر دې الله تعالی مزید توفیق ورکړي، لکه څرنګه چې د محترم لیکوال تخلص دی، الله تعالی دې ورته نور هم وقار او عزت ور په برخه کړي او په عمر کې دې یې برکت واچوي.

د نوي پرمختللي افغانستان په هیله
مولوي امین الله (ازره وال)
د امام ابویوسف (رحمه الله) عالي دارالعلوم خادم



## تقریظ

الحمد لله رب العلمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین محمد و علی آله وصحبه أجمعین وبعد: د قدرمن ورور مولوي وقایت الله وقار لیکنه مې ولوسته، خوندوره لیکنه ده، د کتاب عنوان یې د مسؤلیت پېژندنې او د خپل ولس، هېواد او په ټوله کې د ټول اسلامي امت په وړاندې د ژور احساس څرګندوی دی، داسې لیکنې چې ځوان نسل ته د لارې مشال شي او په دې لالهانده پېر کې د خپل هدف او موخې لوري ته یې سیخ کړي، ډېرې کمې تر سترګو کېږي.

(نوی افغانستان له مونږ څه غواړي؟) دا پوښتنه په خپل ذات کې هېښوونکې ده، زړه راښکوونکې ده او هیله بښوونکې ده او بیا چې د خطاب پیل یې په ژوندیو هیلو شوی، ځوان نسل سکونډل شوی او بیا په ډېره مینه یې مخې ته موخې او د راتلونکي ژوند کړنلاره ابښودل شوې ده، هغه چې نېکمرغي زېږوي، بدمرغي ختموي او د هیلو ترڅنګ د یو عملي ګام لپاره د کار او زیار نقشه کاږي، هغه هم د مادیت او معنویت په ښکلي امتزاج کې؛ کله ناکله خو قومونه د حوادثو په تسلسل کې لاره ورکه کړي، تر دې چې شیمه یې ختمه شي او له مخکې تګ وغورځېږي، په داسې ویرجن او له ناخوالو ډک چاپېریال کې بیا سترګې ځوانانو ته اوړي چې پوره انرژي لري، ارادې یې لا مصلحتونو نه دي ککړې کړي، په خپل ځان

Preview (5 / 10) - ketabton.com



او ورتیاوو ښه ډاډه او باوري وي، همدوی سره د زړه خواله، همدوی ته د زړه سپړل او همدوی ته هیله درلودل د نجات او ژغورنې لار ده.

ویارم چې یو ځوان دغه دروند پېټی په اوږو اخلي، په خپله له خپلو همزولو سره احساس شریکوي تر څو د یو ګډ او با هدفه کار لپاره لاس په کار شي، ګوندې دغه د ناورینونو تسلسل ته د پای ټکی کېږدي.

ددغه لیکنې لوستل پر هر دردېدلي ځوان لازمي بولم، الله متعال دې لیکوال ته لاهم توفیق ورپه برخه کړي چې دغه لړۍ نوره هم بډایه کړي او د روڼ اندی رښتینی انځور ټولنې ته وړاندې کړي.

و ماذلک علی الله بعزیز

(مولوي) محمد نعیم جلیلي



## سریزه

### بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی، أمابعد: یو پیاوړی افغانستان چې په خپلو پښو ولاړ وي او د سیمې د سیالو هېوادونو په کتار کې د سیالۍ ډګر ته راودانګي، ددې وطن د فرد فرد هیله ده او په دې لار کې په لکونه وګړي شهیدان شوي، په میلیونونه مهاجر شوي او په زرګونه بې معیوب شوي دي؛ خو په خواشینۍ سره چې لاهم اړتیا ده، چې ښه زیات مزل ورته وشي.

د نن نسل له پروني نسل یو څه ویښ ښکاري او هیله مند یو، چې په لومړیو کې د الله تعالی په توفیق او بیا د نني نسل په ژمنتیا چې د خوږو سلفو تجربې ورسره ملګرې وي، یوه داسې پړاو ته به داخلېږو، چې افغانستان به بیا لکه د نن افغانستان نه وي.

دا کتاب په حقیقت کې د نوي نسل له پاره د وطن پالنې یوه دریڅه ده، چې دوی پکې د خپل هېواد د مینې سربېره له ځینو اړینو تجربو، یادښتونو، د پرمختګ په رازونو، د اوسني عصر له غوښتنو او په ټوله کې د ټولو هېوادوالو او په ځانګړې توګه د ځوان او لوستي قشر په اړینو مسؤلیتونو باندې پوهېدای شي.

ددې کتاب په ترتیب او خپراوي کې له ټولو استاذانو او ملګرو او په ځانګړې توګه قدرمن شیخ الحدیث مولوي امین الله ازره وال او دروند

Preview (6 / 10) - ketabton.com



شخصیت شیخ الحدیث مولوي محمد نعیم جلیلي څخه منندوی یم چې د خپلو ارزښتمونو کتنو په رڼا کې یې اثر لا ارزښتمن کړ... او خوږ دوست مصلح الدین حامد صاحب ته دې هم الله تعالی بې شمېره اجرونه ورکړي چې د کتاب د چاپ لپاره یې داد راکړ.

په دې امید، چې د کتاب ارزښت ته په کتو لاس په لاس شي او د یوه سوکاله او آباد افغانستان راتلونکي کې ددې کتاب رول لکه د بنیاد د خښتې وي.

په مینه او درنښت؛ مولوي وقایت الله «وقار»

جلال آباد؛ د امام ابویوسف رحمه الله عالي دارالعلوم



## امید د نوي افغانستان کیلي

د نوي افغانستان نوم شاید ډېرو ته نوی وي، ولې مونږ په دې باوري یو، چې ددې نوم ښه اثر به ډېر زر څرګند شي، ډېر زر به ان شاء الله د داسې شېبو شاهد شو، چې هلته به د زوړ افغانستان اصطلاح ښه په درز کې مخ په ختمېدو وي او د نوي افغانستان اصطلاح به په پوره سرلوړۍ د خلکو له خوا په پوره ولوله او جذبه بدرګه کېږي.

د کایناتو خالق نا امېدي ښه نه ګڼي، له همدې کبله خو حضرت یعقوب علیه السلام چې کله خپلو زامنو ته د ورک یوسف (علیه السلام) د لټون امر کوي، ورته وایي چې تاسو نا هیلي کېږئ مه، ځکه چې ناهیلي خو د کافرانو کار دی، یعنې هغه څوک چې په الله تعالی باندې باور نه لري، هغوی د نړۍ او په ځانګړې توګه د

Preview (7 / 10) - ketabton.com



خپلې ټولنې د پرمختګ څخه نا امېده دي، مګر هغه کسان چې په الله تعالی باور لري، هغوی په دې عقېده دي چې الله تعالی به دغه حالات تغییروي، دا نن چې څومره سختۍ دي، په دې پسې تر دې څو چنده زیاتې اسانۍ شته او قرآن کریم خو په دې اړه ډېر صریح دی، هلته چې فرمایي: فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا، إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا. الشرح/۵ او ۶

ژباړه: نو یقینا چې له سختۍ سره اساني شته، پرته له شکه له سختۍ سره اساني مله ده.

دلته به مناسبه وي چې د زده کړې د پړاو هغه عربي شعر ذکر کړم چې په همدې اړه بې ویلی وو او ډېر جالب دی:

إِذَا اشْتَدَّ بِكَ الْعُسْرُ ... فَفَكِّرْ فِيْ أَلَمْ نَشْرَحْ

فَعُسْرٌ بَيْنَ يُسْرَيْنِ ... إِذَا أَبْصَرْتَهُ فَافْرَحْ

ژباړه: کله چې درباندې ستونزې زیاتې شوې؛ نو په سورة (ألم نشرح) کې فکر وکړه، ځکه چې هلته بې سختي د دوه اسانیو ترمنځ راوړې ده، کله چې دې دا فکر وکړ، خوښ به شې.

دا د ډېر افسوس خبره ده مونږ چې په کوم عصر کې اوسېږو، زمونږ له عام ولس خو لا څه چې هغه مهم علمي کدري خلک مو داسې



مایوسه دي ته وا چې دا د حالاتو تغییر ورته بالکل ناشونی ښکاري او داسې انګېري، لکه د افغانستان پرمختګ چې یوه داسې قضیه وي، ګویا د قیامت راتګ پرې ولاړ دی.

دا خبره درسته ده چې مونږ د درېیمې نړۍ خلک یو او دلته چې کوم مشکلات دي، هغه به په نوره نړۍ کې په هغومره اندازه نه وي، ولې دا خو لکه د لمر روښانه ده چې دا ټول حالات که تر دې څو چنده زیات نور هم سخت شي، تغییر کوي او ددې بدلون که څه ځانګړي معیارونه ورته په نظر کې ونیول شي، یقیني دی.

مونږ ته په دې خبره تر ټولو ستر دلیل د رسول الله صلی الله علیه وسلم عملي ژوند دی، پیغمبر صلی الله علیه وسلم په یوه داسې ټولنه کې مبعوث شو، چې هغه په ټوله معنی له انساني ځانګړتیاوو څخه وینځل شوې وه او چا دا احساسولی نه شوه چې دوی دې د لسګونه کلونو په مزل سره داسې تغییر وکړي او هغه کسان چې د یوه عادي توکي د ساتنې باور پرې نه کېږي، هغه دې د ټول امت امینان شي.

مګر دا خبره تاریخ ډېره مفصله ثبت کړې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارکې تربیې او د قرآن کریم د ارشاداتو په رڼا کې عرب قوم او په ټوله کې ټول انسانیت د تغییر یوه داسې مرحله

Preview (8 / 10) - ketabton.com



تېره کړې چې هغه ډېره بې ساري ده، هلته د ټولنې فرد فرد پرمختګ کړی وو او ددغه فردي تغيير په نتيجه کې ټولنه په هر ډګر کې دومره پرمختللې شوې وه، چې د اوسنۍ نړۍ د واک ټېکه داران د هغوی په شاګردۍ باندې ځان وياړمن ښايي.

دا سمه ده چې په اسلامي دنيا کې زمونږ وضعيت نسبت نورو ټولنو ته ډېر د انديښنې وړ دی، ولې ددې غوښتنه مونږ نه داده چې بايد ډېر ورته فکر وکړو، نه دا چې بې ځايه خفګان او ناهيلي ورته ولرو.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مبارک سيرت کې لولو چې په ډېرو سختو شېبو کې خباب بن الأرت رضي الله عنه ورته راځي، په داسې حال کې چې نبي عليه السلام د کعبې څنګ ته ډډه وهلې وه، له مشرکانو څخه ورته فرياد کوي، ورته وايي: آيا الله تعالی ته دعاء نه کوې؟

هغه په داسې حال کې چې مخ يې له غوسې تغييرېږي، کېني او بيا وايي: له تاسو نه مخکې خلکو باندې داسې شېبې راغلې وې چې د وسپنو په ږمنځو به يې غوښې ږمنځ کېدې؛ خو دې کار به له دينه نه اړول، اره به يې په سر کېښودل شوه، دوه پړکه به شو؛ خو له دين څخه به نه اوښته او خامخا الله تعالی به دا دين سرته



رسوي، تر دې پورې چې له (صنعاء) څخه به يو سپور تر (حضر موت) پورې ځي، له الله تعالی څخه پرته به له هيڅا څخه نه وېرېږي.[1]

زه د خپل کم عمر په درشل کې له ډېرو علمي وګړو سره په دې بحث مخ شوی يم، چې هغوی په دې ټينګار کاوه: افغانستان له جوړېدو وتلی دی! مګر ما بيا بيا ورته ددې تاکيد کړی چې ناهيلي په کار نه ده، دغه هر څه ممکن دي، مګر له مونږ يو لږ غوښتنې لري، چې بايد پوره يې کړو... هر نوی سباوون چې راځي، معنا يې داده چې الله تعالی له کايناتو او په ځانګړې توګه له بشر څخه مأيوسه نه دی؛ نو مونږ ولې مأيوسه شو؟

که په قوي هوډ د وطن د پرمختګ قضيه مطرح شي او عملا ورته لاس په کار شو، دا نو کومه لرې خبره نه ده چې مونږ به ډېر زر د نورو سيال شو، ډېر زر به په ديني او دنيوي لحاظونو داسې مقامونو ته ورسېږو چې نور به راپسې پکې اقتداء کوي، مګر که خدای مه کړه بې همته شو، سست او بې حوصلې شو، لرې نه ده چې دغه شته تشخص به مو هم ورک شي او داسې به د نړۍ له

---

۱: أبو زهرة، محمد بن أحمد بن مصطفى بن أحمد، خاتم النبيين صلى الله عليه وسلم، ج: ۱، ص:۳۵۴، ناشر: دار الفكر العربي، القاهرة، ۱۴۲۵ هـ.

Preview (9 / 10) - ketabton.com



منځه ختم شو، لکه هغه ورک قومونه چې اوس يې د تاريخ پر پاڼو فقط نومونه پاتې دي او نور يې د نسل د يوه کوچني بچوړي نمونه هم نه شته.

که زمونږ په ټولنه کې دغه بې ځايه متل منع نه شي، چې وايي: اوبه له بره نه خړې دي او ددې په نتيجه کې بيا نو هر څوک خپلې ناروا ته دلايل وايي؛ نو ارو مرو به دغه اوبه همداسې خړې پاتې وي... که مونږ د هرې رتبې وګړي يو؛ خو چې په دې هېواد کې اوسېږو او دا روحيه واخلو چې زمونږ وطن زمونږ دی، دلته دا هر څه زمونږ دي او مونږ بايد په خپله د خپل وطن د ښېرازې او آبادۍ اراده ولرو، ممکنه ده چې د هېواد د تحول خوځښت له کشرانو شروع او په مشرانو ختم شي... دا تر ننه چې مونږ د مشرانو له خوا د پرمختګ لپاره لاس تر زنې ناست يو، همدا تاوان مو وکړ چې خپله انرژي مو يا بې ځايه ضايع شوه او يا همداسې په جمود پاتې شوه، دا منو چې مشر د مشرۍ پر ځای معتبر دی، ولې ددې تر منلو دا سل واره ضروري ده چې کشر هم خپل ځای ولري، که کشر نه وی، د مشر مشرولي به چا منله؟ مشر خو چې مشر دی؛ نو د کشر په برکت مشر دی.



مونږ د خپلو مشرانو له پوره احترام سره سره او د هغوی د لارښوونو په رڼا کې په دې يقيني يو چې که د بدلون ګام اخلو، ان شاء الله تعالی حتما به رنګ راوړي او حتما به ورو ورو د هېواد جوړونې ارمان پوره کېږي.

مونږ بايد په دې پوه شو چې ماشوم د ټولنې لومړنۍ خښته ده، مونږ که د ماشوم رزونې له لومړي وخته هغه ته امېد ورکړو، ښه روزل کېږي او په هغه کې د مسؤليت درکولو احساس پيدا کېږي، طبعي ده چې د همدغه ماشومانو لړۍ په سباني ځوانانو او د بلې ورځې په رهبرانو باندې نتيجې ته رسي، که مونږ په خپلو ناستو، درسونو، علمي دورو، خبرو او ليکنو کې د امېد او هيلې روحيه د هېواد هر فرد ته ورکړو، ډېرې هغه ستونزې چې نن ورسره لاس او ګرېوان يو، ختمېدای شي.

زمونږ په ټولنه کې ډېرې بدې کړنې له دې کبله نه کېږي چې کوونکي يې بد خلک دي، بلکې له دې امله کېږي چې کوونکي يې په دې باور دي چې له ناروا څخه زما اجتناب د ټولنې په ګټه نه شي تمامېدای او هسې کار دی.

کله چې له عادي مامور څخه نيولې تر لوړ پوړې چارواکي او عام ولسي خلک هم ددې فکر خاوندان شي چې زما د هر مثبت کار

Preview (10 / 10) - ketabton.com



نتیجه زه په سترګو لیدی شم او که زه بې ونه وینم؛ نو سبا ورځ زما نسل ترې برخمن کېدای شي؛ نو شونې نه ده چې منفي عمل دې ترسره کړي، بلکې ددې برعکس د خیر او ښېګنې کارونو ته به مخه کوي او په هغې کې خپل آرام لاسته راوړي.

او بیا هم نا امېدي په کار نه ده، ځکه نو لوی تابعي محمد بن سیرین رحمه الله فرمایي: د الله تعالی له رحمت څخه ناامېده کېدل ځان هلاکت ته غورځول دي.

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه به فرمایل: هلاکت په دوه شیانو کې دی، اول: د الله تعالی له رحمته نا امېده کېدل، دوهم: تکبر کول.

او په همدې توګه امام سفیان بن عیینة رحمه الله فرمایي: که څوک لګیا شي، خلک او یا ځان د الله تعالی له رحمته نا امېده کوي؛ نو ګناه کوي. [١]

[٢]: السقاف، مجموعة من الباحثين بإشراف الشيخ عَلوي بن عبد القادر، موسوعة الأخلاق الاسلامية، ج: ٣، ص: ٣٦، موقع الدرر السنية على الإنترنت، ١٤٣٣ هـ .



## د هیلو محور ځوانان

د ځوانۍ او ځوان ارزښت له یوه اړخه د اسلامي شریعت د هدایاتو په رڼا کې یو منل شوی حقیقت دی او له بل لوري سالم عقل هم تائید کړی دی، دا له دې کبله چې ځواني د ژوند یو داسې پړاو دی، چې د الله تعالی له خوا د لورول شویو ټولو نعمتونو کمال پکې خپل ځان څرګندوي، څومره وړتیاوې چې یو انسان بې په خپله ځوانۍ کې لري، د عمر په کوم بل پړاو کې بې نه شي درلودلی، پر همدې بنسټ پیغمبر صلی الله علیه وسلم یوه کس ته په خپل نصیحت کې فرمایي: اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: شَبَابَكَ قَبْلَ هِرَمِكَ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ، وَغِنَاءَكَ قَبْلَ فَقْرِكَ، وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ (المستدرک للحاکم، کتاب الرقاق)

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/cYdk3hthWM0

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.